مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

پوهندوی آصف بهاند

۲۰۲۰/۰۳/۰۲

# مـیـنـه




مینه، پخوانۍ مینه

زړه مینه، خو بنه مینه

مینه، اوسنۍ مینه، تازه مینه

مینه ده بیا مینه، بیا به مینه وي

مینه زړه، تانده مراوې نه غواړي

مینه سمه غر او شاړې نه غواړي

مینه ده رنځ او ماجببنه ده

مینه ده روڼ لمر مینه تودوخه ده

مینه د تورتم زړه کې ډیوه هم ده

مینه توکېدونکي سره غوټۍ هم ده

مینه امیدونه دي او هیلي دي

مینه په ویرونو کې خوښۍ هم دي

مینه لرې نه ده ورکه نه ده درسره ده تل

مینه ده سپېڅلي، مقدسه او کره ده تل

مینه که وي پاکه، بېغرضه، تقدس به وي

هر څوک یې چې نه لري مفلس به وي

مینه غرضي که شي، ناولي شي

سل کال ریاضت غواړي سپېڅلي شي

۲۰۱۹/۱۲/۲۶
هیدرسلیف
ډنمارک



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکي په ځیر و لولـئ